**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک ۲۰۲۳/۰۹/۰۶

# د دال خوړل افراطي سوي دي

له دال څخه زما مراد هغه خواړه نه دي چي د هند ـ پاکستان په خاوره کي ئې خوړل ډېر عام دي او پښتانه ئې هم کله کله د کتغ په توګه له ماشو (میو) او عدس څخه پخوي. کندهاریان ئې "پاتی" بولي خو له ځینو پښتنوڅخه مي د "پیاتي" په بڼه هم اورېدلی دئ. د "پاتي" یا "پیاتي" خوړلو اصطلاح اوس زیاتره پښتانه هغه چاته د پېغور په شکل کاروي چي د هیواد په وړاندي ئې د پنجاب غوره سوې لاره نیولې وي. په عام اولس کي د"پاتي" یا "پیاتي" د خوړلو پلویان او مخالفین دواړه سته. دا چي وایي "د مېلمه جواب پاتی دئ"، ګویا مېلمه ته پاتی پخول د جوابولو معنا لري.

مېلمه ته خو په لومړیو شپو کي وریجي غوښي پخېږي. ورو ورو وریجي غوښي په سپوره ښوروا الیشي سي او کله چي ئې پاتی ورته پوخ کړ، ګویا د حال په ژبه ئې ورته وویل چي: " کاکاجانه! ته به هم خپل کور و ځای لرې، دلته دي شپې ترانداز‌ې زیاتي سوې".

د دې اصطلاح په وړاندي بیا د پاتي پلویان وایي: " پاتی، د نس پتری، چي ئې نه خوري هغه سپی". زما مقصد په دې لیکنه کي دغه خواړه نه دي چي هم څوک په ښکنځل کېدلای سي او هم مېلمه په جوابېدلای سي. زما مقصد هغه فونیم دئ چي په عربي الفبې کي اتم توری، په پارسي کي لسم توری او په پښتوالفبې کي دیارلسم توری دئ او ګرافیم ئې (د) دئ. د کلماتو په سر، منځ او پای کي راتلای سي. مثالونه ئې دوه، دروند، وردګ او نور دي.

په پښتوګرامر کي یو ډول ترکیبونه سته چي اولنیو ګرامر پوهانو اضافي ترکیبونه بلل او دا داسي ترکیبونه ول چي په هغو کي د یوه نوم (اسم) نسبت بل نوم یا ضمیرته سوی وي. لکه د توریالي قلم، د بریالي کور، د زمریالي لیکنه، د کندهارانار، د کابل توت، د ننګرهار نارنج، د پکتیا څېرۍ... او نور. په دغو مثالو کي راغلو دالونو ته د اضافت دال وایي. د اضافت دال که له دغو ترکیبو څخه وایستل سي، ترکیب سمه معنا نه ورکوي. توریالي قلم، بریالي کور ، زمریالي لیکنه، (کندهار انار)، کابل توت، ننګرهار نارنج، پکتیا څېرۍ له دالونو پرته نیمګړي ترکیبونه باید وبلل سي. کله کله د دالونو بېځایه کارول هم تر سترګو کېږي. د ننګرهار پوهنتون که د یوه مستقل نامه په توګه مطلب وي، نو د دال اړتیا ورته نسته او ننګرهارپوهنتون باید ولیکل سي. خو که مراد ئې د ننګرهار پوهنتون محصلین وي، نو بیا د دال راوړل حتمي دي. ایسته کول (خوړل) ئې ترکیب ته تاوان پېښوي. د ډېرو دالونو راوړل هم لازم نه دي او د سپما له قانون څخه په استفادې سره ئې باید په شمېرکي کمی راسي. د مثال په توګه "د کابل د پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي محصلین" کي د دالونو په کارولو کي بې ضرورته زیاتوالی راغلی دئ او "د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي محصلین" ئې سمه بڼه کېدلای سي. دا هغه لاربښووني دي چي موږ ته د ژبپوهانو له خوا را ښوول سوي دي. خو اوس د دغو لاربښوونو په پلمه د دالونو په خوړلو (لړولو) یا (ایسته کولو) کي خبره ورانه سوې ده. د مثال په توګه په یوه ویبپاڼه کي "د داعش په اړه ۲۶ خبري چي اوباما ئې پټوي" تر سرلیک لاندي لیکنه داسي پیل سوې ده : "متحده ایالاتو په مشرۍ د داعش پر ضد جګړه یو لوی درواغ دي..." دلته تر"متحده ایالاتو" دمخه یو دال خوړل سوی دئ چي دا کار له ګرامره سرغړونه ده. بل سرلیک داسي دئ:

"افغانستان ته روسیې پښه را اوږدېږي" دلته بیا تر روسیې دمخه یو دال خوړل سوی دئ چي له ګرامره سرغړونه ده. په بل ځای کي راغلي دي:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

"د افغان حکومت او وسله والوطالبانو تر منځ مخامخ خبري سږ کال جون کي پاکستان کي ترسره شوي،..." دلته تر"سږکال" دمخه يو دال خوړل سوی دئ او تر "جون" او "پاکستان" دمخه "په" خوړل سوی دئ چي له جملې خو مطلب اخيستل کيږي مگر له گرامره ځرگنده سرغړونه ده. "خبري ترسره کېدل" خو په هيڅ ډول پښتو کي نه ويل کيږي. "خبري کيږي" ئي سمه کارونه ده. د جملې سمه بڼه ئي بايد داسي وای: "د افغان حکومت او وسله والو طالبانو تر منځ مخامخ خبري د سږکال په جون کي په پاکستان کي وشوې".

د"په" خوړل (حذفول) خو اوس د بي بي سي په خپرونوکي اپېډيمي سوې ده.

زما هيله دا ده چي د دال په خوړلو (ايسته کولو) کي له لږ څه احتياطه کار واخلو.

آټاوا ــ کاناډا
۵ جون ۲۰۲۳ع

(دا ليکنه ما څه موده پخوا ترتيب کړې وه او مثالونه ئي د هماغه وخت له خپرو سوو مطالبو څخه راخيستل سوي دي . م . هـ)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ